مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۳/۰۸/۰۵

# د لوږې څونامي

## څلوردېرشمه برخه

په افغانستان کې نوي واکداران د خپلو ځانګړو قوانینوله مخې عمل کوي، سره له دې چې د دوی اصول له تولو نړوالو قوانینو سره په تضاد کې دي، که څوک مري که چوي، دوی خپل اصول تطبیقوي او د دې سختیو پور عام خلک پرې کوي.

د لوږې څونامي په لړ کې د طالبانو اصول د نړیوالو خیریه مؤسسو د کار لپاره خنډونه پیښوي او نړیوال مرستندویان کله دې ته اړ کېږي چې تراړمنو پورې د خوراکي توکو رسول او ویش ودروي، کله چې خوراکي توکي ورو ته ونه‌رسېږي، خامخا ضرر بیا هم همغو وږو عامو وګړو ته رسېږي. نوي رپوټونه داسې وایي چې: ملګري ملتونه به په غور ولایت کې د طالبانو د لاسوهنې په وجه خپلې مرستې بندې کړي.
د بي بي سي پښتو په یوه تازه رپوټ کې په دې باب داسې راغلي دي:

«د ملګرو ملتونو د خوړو پروګرام 'ډبلیو ایف پي' وایي د طالبانو د لاس وهنې له امله په روان کال کې دوی اړ شول چې د دویم ځل لپاره په غور ولایت کې خپل فعالیت د لنډ وخت لپاره وځنډوي.
غور د افغانستان یو له هغو ولایتونو دی چې د ځینو ولایتونو پرتله بیوزلي او بې کاري په کې ډېره ده.
د ډبلیو ایف پي ویاند وحید اماني بي بي سي ته ویل د اوس لپاره غور کې خلکو ته د خوراکي توکو او ښوونځیو له لارې د مرستو ویش بند دی، هلته یې کارکوونکي نشته او د خوراکي توکو زېرمې هم نه لري.
نوموړی وایي: "له بده مرغه په دې وروستیو میاشتو کې د غور ځایي چارواکو لخوا خلکو ته د مرستې رسولو په چارو کې لاس وهنې کېدلې. په تېره جنوری میاشت کې ملګرو ملتونو غور کې تولې بشري مرستې د لنډ مهال لپاره وځنډولې، وروسته له هغه چې ځایي چارواکو د نه لاس وهنې ضمانتونه ورانديٍ کړل، مرستې بیا پیل شوې، اپریل میاشت کې بیا لاس وهنې پیل شوې، نو ځکه فعالیتونه بند شول. موږ اوس یوازې د نورو بنسټونو له لارې مېندوارو مېرمنو او هغو مېرمنو سره چې تی ورکوي مرستې کوو."
ښاغلي اماني زیاته کړه چې غور کې به د اټکل له مخې تر راتلونکي اکتوبر میاشتې نږدې پنځه لکه کسان کافي خواړه ونه لري او دوی سره به تر هغه مرستې و نه شي رسولې تر څو چې د دوی په کارونو کې د نه لاس وهنې ډاډ نه وي ورکړل شوی...»

د افغانستان لوږې څونامي ځپلو لپاره بدزېرې دا دی چې مخکې تر مخکې د خوړو نړیوال سازمان خبرداری ورکړی دی او ویلي یې دي چې: «د خوړو نړیوال پروګرام: له اکتوبر میاشتې وروسته افغانستان سره د مرستې لپاره پیسې نه لرو.»

د بي بي سي په یوه نوي رپوټ کې د خوړو د نړیوال سازمان د مسؤلینو له خولې ویل شوي دي چې دوی د مرستو لپاره نورې مالي منابع نه لري. د یاد رپوټ په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام (ډبلیو ایف پي) مشرې خبرداری ورکړی چې د اوسنیو وړاندوینو له مخې د اکتوبر میاشتې تر پایه به له افغانستان سره د خوراکي توکو د مرستو لپاره د دغه سازمان مالي سرچینې ختمې شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان لپاره د خوړو نړیوال پروګرام رئیسي هیساو ويلي رویترز خبري اژانس ته ویلي، موږ کولی شو یوازې د څو میاشتو لپاره پنځه میلیونه وګړو سره مرسته وکړو خو له هغې وروسته مالي سرچینې نه لرو.
د ملګرو ملتونو د خوړو نړیوال پروګرام وایي، "اوسنی بودیجي او د بسپنه کوونکو هېوادونو ژمنو ته په کتو به د مرستو کچې کمښت په اګست کې پیل شي چې په سپتمبر کې به نور هم کم او بیا په اکتوبر کې ختمي شي چې دا وخت په افغانستان کې د ژمي له پیل سره سمون خوري."
هیساو وي لي وویل، دوی د اوس او راتلونکي کال د مارچ تر پایه شاوخوا یو میلیارد ډالرو ته اړتیا لري...»

د لوړې څونامي په پراختیا کې طبعي پېښې هم رول لري، وچکالي، د ملخانو ورانی، زلزلې او... دې پېښو په افغانستان د خوراکي توکو حاصلات زیانمن کړي دي. په دې وروستیو کې د خوړو نړیوال سازمان ویلي دي چې:

«پرله پسي وچکالی او ملخانو د حملې له امله په افغانستان کې د غنمو حاصلات ۳۵ سلنه کم شوي دي.»

لکه د تېر خپرو کړو مقالو په ترڅ کې مې چې ویلي وو: د افغانستان د خوړو د نهخوندیتوب په برخه کې منفي خبرونه ډېر دي، اوس هم د هغو منفي خبرونو لړۍ روانه ده. د یادو منفي خبرونو څو سرلیکونه دا دي:

تاند:

«WFP: له اکتوبر وروسته له افغانستان سره د مرستې پیسې نه لرو»،

تاند:

«ملګرو ملتونو په افغانستان کې د خوراکي توکیو د نه خوندیتوب په اړه خبرداری ورکړی»

بي‌بي‌سي پښتو:

«ملګرو ملتونو افغانستان کې د راتلونکو دوو کلونو لپاره نوی ستراتیژیک چوکاټ اعلان کړ»

تاند:

«ملګرو ملتونو تر ۲۰۲۵ کال پورې د «افغانستان د ملاتړ ستراتیژي» خپره کړه»

بي‌بي‌سي پښتو:

«۲۸/۸ میلیونه اړمن افغانان دوه میلیارد ډالرو عاجلې مرستې ته اړتیا لري»

تاند:

«د خوړو نړیوال پروګرام: افغان ناورین عاجلې بشري مرستې غواړي»

میډیا خبر ورکړی دی چې: «WFP: له ۱۵ میلیونه وږو افغانانو څخه یوازې ۴ میلیونو سره مرسته کولای شوو» دا په ریښتیا یو خوابدونکی خبر دی چې خوړو نړیوال سازمان، د ۱۵ ملیونو وږو له ډلې نه یوازې ۴ میلیونو وږو سره د مرستې توان لري، اوس پوښتنه دا ده چې دا پاتې وږي به څنګه شي؟ نور حال په لاندې ریوټ کې:

«تاند:( جمعه ، د جوزا ۱۹ مه ) د خوړو نړیوال پروګرام اعلان کړی چې د بودیجې د کموالي له امله دا اداره یوازې په افغانستان کې له څلورو میلیونو اړمنو خلکو سره مرسته کولای شي.
دا په داسې حال کې ده، چې د یاد شوي پروګرام د معلوماتو له مخې، په دغه هېواد کې ۱۵ میلیونه وګړي نه پوهیږي راتلونکي خواړه له کوم ځایه ورته راځي.
په همدې حال کې د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر هم وایي چې افغانستان لا هم د نړۍ په کچه تر ټولو ناوړه بشري ناورين شاهد دی.
اوچا وایي، سږ کال د افغانستان له دوه پر دریمې برخې نفوس (۲۸.۳ میلیونه وګړي) د ژوندي پاتې کېدو لپاره د نړیوالو مرستندویه کارکوونکو بشري مرستو ته اړتیا لري، ځکه هېواد پرله پسې دریم کال وچکالي او دویم کال د سخت اقتصادي بحران سره مخ دی.
د طالبانو رژیم له نړیوالو غواړي، چې افغانستان سره بشري مرستې له سیاسي تبعیض پرته په پراخه کچه وکړي، خو منتقدان يې باور لري، چې له دغو مرستو د طالبانو ناوړه استفاده او لږ ترلږه د دغو مرستو په ویش کې ښځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کارکوونکو ته د کار کولو اجازه نه ورکول، د طالبانو تېروتنه ده، چې افغانان ورسره د لوږې او ناورین قرباني کيږي.»

د لوږې په حالت کې وږی د نس مړولو لپاره وږی سوال کولو ته لاس غځوي او کېدای شي هر څه وکړي، خو زموږ په ټولنه کې سوال کول عيب ګڼل کېږي او خبره بيا ترديې پورې پړسول کېږي چې سوال کونکي، حتی د کورنۍ او قوم په نامه يې هم پېغورونه ورحواله کېږي. په دې مورد کې د يو بادرکه او چيز فهمه فرهنګي دا خبرې ډېرې پر ځای او مناسبې دي:

«سوال کول، هغه هم په اوسنيو شرايطو کې، چې هېواد مو د نړيوالو بشري مرستو مستعمره ده، ولې افرادو ته شرم ګڼئ او د قومي بحثونو تر حده پکې نا مسوولانه او احساساتي مخکې ځئ؟
راځئ سوال کولو ته د عيني شرايطو له مخې، له انساني زاويې وګورو.
د فقر په اړه د نړيوالو بنسټونو ارقام که نه منئ، د حاکمې ډلې چارواکي هره ورځ له نړيوالو بشري مرستې نه غواړي؟ ستاسې په خپل کور، چم ګاونډ کې د دسترخوانونو او د نسونو وضعيت څنګه دی؟ خوارځواکی ته مو فکر شته؟ له سياسي عواملو اخوا، د فقر له وجې هره ورځ زرګونه ځوانان، حتا پر مرګونو او ناقانونه لارو د وطن پرېښودو هڅې نه کوي؟
د وخت ضايع کوونکو بحثونو پر ځای راځئ لومړيتوبونه وپېژنو او په هره ممکنه حل لاره کې د خلکو د مړينت، باعزته ژوند او روان ناورين نه د ژغورلو لپاره تر خپله وسه ملګري شوو!»
دا يو عيني واقعيت دی چې خلک وږي دی، خلکو نه لاره ورکه ده او څه نشي کولای، نوي واکداران هم د مسؤليت احساس نه کوي، نړيوال هم ستړي شوي او هم يې امکانات لږ شوی دي. په دې ډول له ټولو نه لار ورکه ده چې د خلکو له وږو ګېډو سره څه وکړي، خدای مه کړه که د دې لوږې په پای کې بشري ناورين رامنځته شي، بيا به څه کوو؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ